# طالبان د غزني په لوړپوړو چارواکو باندې غر کوي

**Author:** Borhan Younus

داسې برېښي، چې حکومتي سرتېرو د افغانستان له تاوتریخوالي ډک سهیلي ولایت کې د بغاوت د پای ته رسولو لپاره ملا تړلې ده. . ددې ولسوالۍ ټول اوسېدونکي پښتانه دي، چې په دې وروستیو وختونو کې د طالبانو د یو لړ بریدونو سره مخامخ ده.

دغزني ولایت د تر ټولو لويي ولسوالۍ، اندړو، سړکونه په دې ورځو کې خالي دي. یوازې بایسکلونه او یا خره د ولسوالۍ او کلیو او یا ولسوالۍ او غزني تر منځ په لارو او سړکونو کې خلک له یوځای څخه بل ځای ته لیږدوي.

ددې کار لامل د خلکو بیوزلتوب او یا وروسته پاتې والی نه دی، چې له امله یې په سیمې کې د ترافیکو ګڼه ګوڼه نه لیدل کیږي. دا د طالبانو او حکومت تر منځ د غوښتنې یوه جګړه ده.

د یو لړ وروستیو بریدونو له امله د مرګ او ژوبلې په رامنځته کېدو حکومت د اپریل د میاشتې په نیمایي کې په نوموړی ولسوالۍ کې د ناثبت شویو موټرسایکلونو په ټګ راټګ بندیز ولګولو او په دې توګه یې د یاغیانو د برید د اسانې او خوښمنې لارې مخه بنده کړه.

ددې لپاره چې طالبان وروسته نه وي پاتې شوي، له څنډ پرته یې د ځان له خوا یو فرمان خپور کړ او په ټولې ولسوالۍ کې یې د موټرو په ټګ راټګ بندیز ولګولو او له فرمان څخه سرغړوونکي یې د طالبانو د برید موخه وبلله.

له دې امله سړکونه له موټرو خالي او تش پش دي. له بندیز څخه لس ورځې وروسته موټرسایکلونه یو ځل بیا په سړکونو راڅرګند شول، خو موټرونه هغومره زیات نه دي او یوازې د ګوتو په شمېر ګرځي. دا کار ددې څرګندوونکی دی، چې خلک د حکومت په پرتله له طالبانو څخه زیات ډاریږي.

د سفراز د کلي یو اوسیدونکي، رحمت الله وویل: ((موږ نه ګورو چې د پولیسو کومه ګزمه یا حکومتي پلاوی دې زموږ کلي ته راشي، خو وسله وال طالبان ګورو چې په سیمې کې ګرځې راګرځي. اوس باید له چا زیات وډاریږو؟))

د طالبانو یو قوماندان، چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي، وویل: ((دا ددې څرګندوونکې ده، چې د سیمې کنترول د چا په لاس کې دی.))

د طالبانو تر مشرۍ لاندې د وروستیو میاشتو بغاوت او تاوتریخوالي جوته کړه، چې د کابل سهیل ته 135 کیلومتره وړاندې پروت غزني د افغانستان د سهیلي ولایتونو له ډلې څخه تر ټولو زیات نارامه ولایت دی.

د یوې حکومتي سرچینې په وینا په یوازې په شپږو تېرو میاشتو کې د اندړو په ولسوالۍ کې 28 حکومتي کارکوونکي له پښو غورځول شوي دي.

تر ټولو زیاته مشهوره پیښه د مارچ د میاشتې په نیمایي کې د غزني د پخواني والي، ملا تاج محمد قاري بابا وژل و. قاري بابا په دې وروستیو وختونو کې د ولسوالۍ امنیت په غاړه اخیستی و او لوړه یې کړې وه، چې تاوتریخوالي ته به په هغه ولسوالۍ کې د پای ټکی ږدي.

طالبانو ګوته څنډلې وه، چې سږکال به خپل بریدونه زیات کړي او 2006 کال یې د دښمن (د ماتې کال) بللی دی.

حکومت په اندړو کې تاوتريخوالی هسې بابېزه خبره بلي.

د غزني ولايت د پوليسو قوماندان، عبدالرحمن سرجنګ دا خبره نه مني، چې په سيمې کې دې طالبان پر کوم ځای واکمن وي. هغه وويل، د خلکو او يا موټرو په ګرځېدو راګرځېدو هيڅ بنديز لګېدلی نه دی.

هغه وويل: ((په اندړو کې ډېر سړکونه دي... هغه ټول څوک بندولای نه شي.))

د کورنيو چارو وياند، يوسف ستانکزي هم د طالبانو تر لاس لاندې د کومې سيمې خبره رد کړه او ويې ويل، چې ولايتي پوليس د وضعې او حالت څارنه کوي.

ولايتي پوليسو، ملي اردو او د امريکا تر مشرۍ لاندې ايتلافي پوځونو د طالبانو له فرمان وروسته د اندړو په ولسوالۍ کې ګډ عمليات تر سره کړل او 25 تنه شکمن طالب جنګيالي يې ونيول.

خو د کلي اوسيدونکي بيا بله خبره کوي.

داندړو د ولسوالۍ د رستم د کلي اوسيدونکي ظاهرخان وويل، هغه د يو کلي په هټۍ کې ناست و، چې په موټرسايکلو سپره يوه ډله طالبان راغلل او په لاس ليکل شوې يوه شبنامه يې ووېشله او خلکو ته ګواښ وکړ، چې په موټرو کې ونه ګرځي.

هغه وويل: ((اوس د اندړو په ولسوالۍ کې په موټرو کې سپرېدل ځان له خطر سره مخامخ کول دي.))

د موټرو په ګرځېدو باندې له بنديز څخه وروسته ياغيانو د څلورو موټرو په ټايرونو ډزې وکړې، چې په سړکونو ګرځېدل.

تر ټولو هغه سخت ناروغان تر ناوړه اغېز لاندې راغلي دي، چې نه شي کولای په پښو باندې روغتونونو او کلينيکونو ته ځانونه ورسوي.

ظاهر خان وويل: ((يو شمېر خلک تر ولايته پورې لاره په خپلو پښو وهي.))

د يو بس موټر چلوونکی، جانداد خان چې زياتره له اندړو څخه غزني ته ځي راځي، وويل، د ولسوالۍ له دفتر بهر حکومت په امنيتي پوستو او لويو سړکونو لږ کنترول لري.

هغه آی ډبليو پي آر ته وويل: ((په ليرې پرتو سيمو کې رښتيني واک د طالبانو په لاس کې دی، چې په ازادانه توګه له هر ارز ډار پرته شپه او ورځ په سيمه کې ګرځې کوي.))

نوموړی زياتوي: ((دا کار سړي ته سل کاله وړاندې يادوي. خلکو به يا په بايسکل او ياد خره په سپارلۍ سفرونه کول.)) ((اوس هغوی له ډاره خپل موټرونه سړک ته نه شي راايستلای.))

سيمه ييز طالب قوماندان، ملا محمد انس (مستعار نوم)، چې د هغه د چاخبره په اندړو کې د شورشي فعاليتونو د سرته رسولو لپاره د ملېشو واکمنې شورا له خوا ټاکل شوی دی، ادعا کوي، چې چارواکي د هغه له ځواکونو سره د مقابلې لپاره زړه نه ښه کوي.

هغه وويل: ((د هغوی تګلاره له طالبانو سره د مقابلی مخنیوی دی. موږ ګورو، چې پولیس په امنیتي پوستو او د سړک په غاړو هسې خوشې ولاړ وي. موږ تل د هغوی په وړاندې ځو راځو.))

د انس په وینا طالبان په اندړو کې له دې امله ګټونکي نه دي، چې ښه تجهیزات لري، بلکې له دې امله ګټونکي دي، چې خلک یې مخ په زیاتېدونکې توګه ملاتړ او پلوی کوي.

هغه وایي: ((موږ د خلکو په منځ کې نفوذ پیدا کوو. موږ دوه کاله دمخه په ولسوال کی د پېښې کېښودو لړ ځایونه درلودل، خو اوس په هر کلي کې ځای لرو.))
**Location:** افغانستان

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%B7%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%A7%D9%86-%D8%AF-%D8%BA%D8%B2%D9%86%D9%8A-%D9%BE%D9%87-%D9%84%D9%88%DA%93%D9%BE%D9%88%DA%93%D9%88-%DA%86%D8%A7%D8%B1%D9%88%D8%A7%DA%A9%D9%88-%D8%A8%D8%A7%D9%86%D8%AF%DB%90-%D8%BA%DA%96-%DA%A9%D9%88%D9%8A